
# حکومت غواړي مسجدونه هم د امریکایي جګړه‌ییز ماشین یوه برخه وګرځوي!



د حج او اوقافو وزارت په هېواد کې د سولې د ترویج په موخه د جمعې د لمانځه د خطبو لپاره د ځانګړي کتاب د تدوین خبر ورکړ. دغه کتاب له سولې اخوا د بشري حقونو، د ښځو حقونو، روغتیا، انساني کرامت، ډیموکراتیکو ټاکنو او له اداري فساد سره اړوند نور مسایل هم له ځان سره لري. د یادولو وړ ده چې نوموړي وزارت د دغه کتاب د اعلان په اړه د اروپایي اتحادیې په مرسته تېره پنجشنبې د مرغومي په ۲۱مه په کابل سرینا هوټل کې (په افغانستان کې د سولې غږ) تر نامه لاندې یوه غونډه رابللې وه، چې بېلابېلو کورنیو او بهرنیو بنسټونو او ډیپلماټانو په کې برخه اخیستې وه.

د سولې په موخه د حج او اوقافو وزارت تر چتر لاندې د درباري ملایانو دغه ګام یوازې او یوازې په افغانستان کې د امریکایي جګړې له شدت څخه د عامه افکارو د اغوا کولو یوه هڅه ده، چې په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو لپاره هېڅ ګټه نه لري. ځکه په افغانستان کې د جګړې اصلي عامل په ولس کې د جګړه ییزو افکارو شتون نه، بلکې له یوې خوا پر هېواد د امریکا او ناټو ځواکونو یرغل، په جګړه کې د مسلمانانو پر کور، مقدساتو او نوامیسو تېری او له یرغلګرو سره د افغان دولت ستراتیژیک او امنیتي تړونونه دي او له بلې خوا د سیمې د هېوادونو لپاره د امریکا او ناټو د جګړه ییزې ستراتېژۍ شتون هغه اصلي عوامل دي، چې په افغانستان کې یې د جګړې اورونه بل ساتلي دي.

نو کله چې د جګړې عوامل د امریکا، ناټو او سیمه ییزو قدرتونو له خوا قصداً په دغه جغرافیه او په هغه کې پر مېشت ولس تپل کېږي، دا ډېره لرې برېښي چې د یرغلګرو له خوا د تنخوا خوړونکو ملایانو په دا ډول پوچو هڅو به سوله راشي، بلکې له هغوی څخه یوازې د یرغلګرو پر وړاندې د مقاومت د خنثی کولو، په مسلمانانو کې د جهادي فکر د ځپلو او د سېکولر او کفري ډیموکراسۍ د مفاهیمو د ترویجولو لپاره ورڅخه کار اخیستل کېږي. امریکا او ناټو له یوې خوا د افغانستان له جیوپولیټیکي موقعیت څخه په سیمه کې د خپلې جګړه ییزې اډې او نظامي پروژې په توګه کار اخلي او له بلې خوا یې د عامه افکارو د غولولو په موخه د سولې دروغجنه پروسه روانه کړې ده، چې د حج او اوقافو د درباري ملایانو دغه اقدام هم د هماغه کاذبو هڅو یوه برخه ده.

امریکا او ناټو په اوس او لنډمهال کې اصلاً په افغانستان کې د سولې اراده نه لري، ځکه که په هېواد کې جګړه پای ته ورسیږي، په افغانستان او سیمه کې د دوی د پوځي، سیاسي او اقتصادي شتون پلمه له منځه ځي. نو آیا دا ممکنه ده چې امریکا دې د سولې په پروسه کې رښتینې وي!؟ نه اصلاً رښتینې نه ده، بلکې غواړي زموږ ملایان او د هغوی تر امامت لاندې شاوخوا ۱۵۰ زره مسجدونه د امریکا د جګړه ییز ماشین پر یوه پیاوړې برخه واړوي.

امریکا له ټولو مسلمانو جګړه مارو ډلو غواړي، ترڅو سېکولریزم او ډیموکراسۍ ته غاړه کېږدي، له هغې وروسته بیا ورسره سوله کوي او دا کټ مټ هغه پروسه ده چې د حکمتیار اړخ اسلامي ګوند یې له لارې سوله وکړه، مګر دغه سولې نه یوازې د جګړې په کمولو کې کومه مرسته وکړه، بلکې رسنیو داسې رپوټونه ورکړل چې د یاد ګوند ځینې ناراضه وسله وال د داعش له لیکو سره یوځای شوي او ځینې نور له داعش سره د یوځای کېدو تمایل لري. اوسمهال مخکې له هغې چې طالبان سېکولریزم او ډیموکراسۍ ته بشپړه غاړه کېږدي، د هغوی د جګړې ځایناستی داعش یې لا دمخه د هېواد په ګوټ -ګوټ کې رامنځته کړی او د پیاوړي کولو لپاره یې پراخې هڅې روانې دي. دا ځکه چې نور د طالبانو په وسله وال ملي

مقاومت کې د امریکا او ناټو سیمه ییزې ګټې نه خوندي کېدلې؛ له همدې امله داسې یوې وسله والې ډلې ته اړتیا لیدل کېده چې سیمه ییزې موخې ولري او دا هغه څه دي، چې د امریکا د سیمه ییزې ستراتیژۍ سره بشپړ اړخ لګوي.

نو اوسمهال امریکا د خپلې نوې جګړه ییزې ستراتیژۍ له مخې غواړي په افغانستان او پاکستان کې له نظامي پلوه پر طالب مشرانو فشار راوړي، ترڅو د سولې له پروسې سره یوځای شي. هغه داسې چې طالبان باید د افغانستان سېکولر اساسي قانون ومني، پنځلس کلنې ډیموکراتیکې لاسته راوړنې و زغمي، له پخوانیو نړیوالو وسله والو (القاعده جنګیالیو) څخه بېل شي او که دغو شرایطو ته غاړه کېنږدي، نو د هوایي بریدونو او شپنیو علمیاتو په ترڅ کې به ووژل شي. د طالب مشرانو پر وړاندې د امریکا دغه ستراتیژي له دې سره کومک کوي، چې افغان دولت به له یو شمېر وسله والو او طالب مشرانو سره سوله وکړي او د لاسته راوړنې په توګه به یې د عامه افکارو د غولولو په موخه کاروي، یو شمېر نور به د وسله والو اقداماتو په ترڅ کې ووژني چې په دې سره به خپلو ولسونو او نړیوالو ته د تروریزم پر وړاندې خپل غوڅ دریځ ننداري ته وړاندې کوي او پاتې شوي طالب سرتېري به د سوله شوو مشرانو څخه د خفګان او ځان ساتنې  په موخه له داعش سره یو ځای کیږي.

نو که څه هم په دې وروستیو کې د سولې غږونه ډېر اوچتیږي، مګر امریکا په اوسنیو شرایطو کې اصلاً د سولې اراده نه لري. له همدې امله سوله په روانه جګړه کې د امریکا او ناټو ځواکونو د وحشت پټولو او له هغو څخه د عامه افکارو د منحرفولو د پروسې بل نوم دی، چې یرغلګر یې په خپل منځ کې د جګړې شدت او عام وګړي یې په افغانستان کې د جګړې پای تعبیروي. یرغلګر به لومړی وسله والې مسلمانې ډلې سېکولر او ډیموکراتوي او بیا به ورسره سوله کوي او پاتې مجبور او ناراضي سرتیري به یې له داعش سره یو ځای کیږي، چې د جګړې نوې جبهې به تر پخوا لا ډېرې ګرمې ساتي.

**سیف الله مستنیر**

**د حزب التحریر ولایه - افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**